
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲۲مه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۱۳مه | دویم کال | ۲۸۴ ګڼه
2 017550 139621

## ځیره

۴ مخ




## شنونکي: پر ایران د امریکا تر بندیزونو وروسته طالبانو خپله جنګي ستراتېژي بدله کړې ده


۳

## د افغانستان د هوا پېژندنې مرکز له ۴۲ کلن ځنډ وروسته بیا ورغول شو



د ملکي هوانوردۍ اداره وایي، له ۴۲ کلونو وروسته د افغانستان د هوا پېژندنې مرکز بیاورغول شو او دغه مرکز د هېواد په بېلابېلو برخو کې د هوا پېژندنې په اړه د وړاندوینې وړتیا لري او د طبیعي پېښو له رامنځته کېدو مخکې ګوابښونه هم ثبتوي.
دغه مرکز لومړی ځل په ۱۳۵۵ لمریز کال د ملکي هوانوردۍ په اداره کې رامنځته شو، خو په هېواد کې د څو لسیزو جګړو له امله یې ټول بنسټونه له منځه تللي وو چې شاوخوا درې کاله مخکې په دغه مرکز دویم ځلي کار پیل شو او پرون په رسمي توګه پرانیستل شو.
د ملکي هوانوردۍ ادارې رییس محمود شاه حبیبي د یاد مرکز د پرانیستې پر مهال وویل، دغه مرکز د نړیوال بانک او د امریکا د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) په ۴،۵ میلیونو ډالرو مالي لګښت رغول شوی دی.

---

پر ناامن افغانستان کې د امن جاغوري غوښتنه!
۲ مخ

د ولسي جرګې د ټاکنو په پایلو کې د روڼتیا په اړه شته اندېښنې
۲ مخ

نازولي څه ډول عدالت غواړي؟
۳ مخ

---

## ځانمرګي برید په کابل کې ۲٦ تنو ته مرګ ژوبله واړوله

په کابل ښار کې د ځانمرګي برید له کبله ۲٦ تنو ته مرګ ژوبله واوښته.
برید پرون تر غرمې وروسته شاوخوا دوې بجې د کابل ښار د دویمې امنیتي حوزې اړوند استقلال لېسې ته څېرمه پر هغو دولتي ځواکونو وشو چې د یو لاریون د امنیت لپاره ګومارل شوي وو.
د کورنیو چارو وزارت د ویاند مرستیال نصرت رحیمي وایي چې بریدګر پلی و او موخه یې پر لاریون برید و، خو موخې ته له رسېدو مخکې امنیتي ځواکونو وپېژانده او ځانته یې چاودنه ورکړه.
هغه ویلي چې په برید کې ٦ تنه شهیدان شوي او ۲۰ نور ټپیان دي.
لاریون د کابل ښار په پښتونستان واټ کې و او برید هغه مهال وشو چې لاریون پای ته ورسېد او لاریون کوونکي د سیمې د پرېښودو په حال کې وو.
لاریون کوونکو له دولته غوښتل چې د غزني په مالستان او جاغوریو ولسوالیو او دغه راز د اروزګان ولایت په خاص اروزګان ولسوالۍ کې امنیت ټینګ کړي.
ولسمشر محمد اشرف غني برید غندلی او ویلي یې دي: «تروریستان د دغه ډول جنایتونو په ترسره کولو سره نه یوازې خپلو شومو موخو ته نه رسېږي، بلکې د خپل ځان په اړه د خلکوکرکه او نفرت لا زیاتوي.»
د کورنیو چارو وزارت ویلي چې په برید کې د وژل شویو په ډله کې درې مېرمنې، دوه نارینه او یو نظامي کس شامل دی.

## خلیلزاد د افغان سولې په تړاو د خبرو لپاره مسکو ته راځي


۲ مخ

## فیفا: نبود هماهنگی میان کمیسیون های انتخاباتی چالش جدی است



بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان (فیفا)، عدم هماهنگی میان کمیسیون‌های انتخاباتی را چالش جدی در برابر شفافیت در روند انتخابات پارلمانی اخیر و انتخابات ریاست جمهوری پیش رو در سال آینده عنوان می کند.
یوسف رشید، رئیس اجرایی بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان(فیفا)، دیروز در یک نشست خبری در کابل، با بیان این مطلب گفت که اجازه ندادن به نمایندگان کاندیدان برای نظارت از روند بازشماری آرا، به معنی برخورد سلیقه‌ای کمیسیون‌های انتخاباتی و یا هم فساد گسترده در روند انتخابات است.
او همچنان گفت که در برخی موارد کمیسیون‌های انتخاباتی و دفاتر ولایتی‌شان یک مرجع درست پاسخ‌گویی برای کاندیدان نیستند.
یوسف رشید می‌گوید که عدم آمادگی کمیسیون‌های انتخاباتی برای انتخابات ریاست جمهوری پیش‌رو نگران کننده است، کمیسیون انتخابات حتی نمی‌تواند در مورد تقویم انتخاباتی تصمیم جدی بگیرد.
او گفت که به هر اندازه‌ای که در اعلام تقویم انتخاباتی تاخیر به میان آید، به همان اندازه تأثیرگذاری آن به برنامه‌های احزاب، کاندیدان و ناظران آسیب می‌زند.
قرار بود سه روز قبل کمیسیون انتخابات، جدول زمانی انتخابات ریاست جمهوری را اعلام کند، اما مسئولان این کمیسیون گفته‌اند که به دلیل حجم زیاد کاری و مصروف بودن کارمندان تخنیکی، جدول زمانی انتخابات ریاست جمهوری را در جریان دو الی سه روز آینده اعلام می کنند.

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
If You Can Think It, We Can ink it.
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دریــغ

## په ناامن افغانستان کې د امن جاغوري غوښتنه!

پرون پـه کابل کې سلگونو کسانو لاریون وکړ او د غـزني د جاغـوري او مالسـتان ولسـوالیو د امنیت غوښـتنه یې وکړه. لاریون کوونکو سـهار وختـي لاریـون پیـل کړ او تـر ارگه پـورې ولاړل. دوی ویـل چې حکومت د مالسـتان او جاغوري پـه اړه بـې پروایـي کـوي او حکومتـي کـړی یې پـه دې ناامنـی کـې پـه لاس لرلـو تورنـې کړې. لاریـون کوونکـو د کابـل دولتـي پوهنتونونـو دروازې هـم تړلـې وې او محصلیـن یـې پرې نښـودل چې درسي ټولگیـو تـه ولاړ شي. دوی غوښـتنه کوله چې مالستان او جاغوري ته دې نـوي ځواکونـه واسـتول شي او دغو ولسـوالیو د لارو امنیت دې ټینگ شي. لاریـون کوونکـو دغه راز په هزاره میشـتو سـیمو کـې د قول اردو د جوړېدو، د طالبانو پرضد د هوایي عملیاتو او جگړه ځپلو خلکو ته د مرسـتې رسـولو غوښـتنه وکړه.

د افغانسـتان ټـول خلـک پـه امـن او ثبات کې د ژونـد کولـو حـق لـري او حکومـت بایـد ورتـه دا زمینـه برابـره کـړي. اوس نـږدې نیمایـي افغانسـتان د وسـله والـو پـه ولکـه کـې دی او په نیـم نـور کـې هـم ناامنـی دي. خپلـه پـه غزني کې وسـله وال واکمن دي، ډېرې ولسـوالی یې پـه ولکـه کـې دي او آن یـو ځـل یـې ښـار هـم لانـدې کـړ. اوس پـه داسـې حالـت کې شـونې ده چـې یـوه یـا دوې ولسـوالی دې امـن وي!؟

د لاریـون کوونکـو، د هغـوی د مشرانـو او ملاتړو تېروتنـه دا ده چـې دوی پـه ناامـن افغانسـتان کـې امـن جاغـوري او مالسـتان غـواړي. کـه په ټـول هېـواد کـې اور او جگړه وي، نو دا ناشـونې ده چـې جاغـوري او مالسـتان دې امـن پاتـې شي. لـه همـدې امله ددې پـر ځـای چـې د مالسـتان او جاغـوري د امنیـت لپـاره لاریـون او هڅـې وشي، پـکار ده چـې د غـزني او ټـول افغانسـتان د امنیـت لپـاره هڅـې وشي.

دا سـمه ده چې وسـله والو طالبانو په بې ساري ډول پـه غـزني کـې پـه هـزاره میشـتو ولسـوالیو بریدونـه کـړي او هلتـه لـه دولت سره پـه جگړه بوخـت دي. کـه څـه هـم لـه وړانـدې طالبانـو یـوازې پښـتون میشـتې ولسـوالی لانـدې کړې وې او ویـل کېـدل چـې لـه هـزاره مشرانـو سره د ایـران پـه منځگړیتـوب طالبـان پټ تړونونـه لـري، خـو اوس ښـکاري چـې دا تړونونه نشـته. وسـله والـو طالبانـو ویلـي چـې د حکومـت پـر ضـد جگـړه کـوي او پـه دې کې ورته هېڅ قوم، ژبـه او سـیمه مهمـه نـه ده. اوس ښـکاري چـې سـیاسي او پټـې معاملـې هـم دوامـداره نه پاتې کېـږي او نـور بـه حالـت بدلېږي.

کـه څـوک رښـتیا د خپـل ځـان، خپلـې کورنـی، خپـل قـوم، خپلـې ولسـوالی او خپـل ولایـت د امنیـت غوښـتنه کـوي، نـو پـکار ده چـې د افغانسـتان د امـن او ثبـات لپـاره کار وکـړي. دا شـونې نـه ده چـې افغانسـتان دې ناامـن وي، خـو یوه ولسـوالی یا ولایت دې امـن پاتې شي. لـه همدې املـه د قومي او مذهبـي حرکتونو پر ځـای دې د امـن او ثبـات لپـاره ملي او سراسري خوځښـتونه او هڅـې وشي. ځینـي سـیمې چې پخوا لنډمهالو پټو تړونونو سـاتلې وې، ښـایي د ولسـمشرۍ د کمپایـن لپـاره حکومـت هـم ورته خـاص پـام وکـړي، خـو دا بـه بیـا هـم لنډمهاله وي. لـه همدې املـه د لنډمهاله امنیت او ثبات پـر ځـای، پـکار ده چـې په ملي کچـه د دوامداره امـن او ثبـات لپـاره هلـې ځلـې وشي.

# د ولسي جرگې د ټاکنو په پایلو کې د روڼتیا په اړه شته اندېښنې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د ولسـي جرگـې د اوولسـمې تقنینـي دورې ټاکنـې لـه غـزني او کندهـار پرته، د روان لمریـز کال د تلې پـه ۲۸مه او ۲۹مه تـرسره شـوې. کـه څـه هم لـه یـادې نېټې یـوه اونـی وروسـته پـه کندهـار کـې هم د ولسي جرگـې ټاکنـې تـرسره شـوې، خـو پـه غزني کـې بـه دغـه ټاکنـې لـه را روانو ولسـمشریزو ټاکنـو سره یـو ځـای تـرسره کېږي.

کـه څـه هـم پـه لومړیـو کـې د ټاکنـو خپلواک کمېسـیون ویلـي وو چې د ټاکنو لومړنـی پایلـې بـه د روان لمریـز کال د لړم پـه ۱۹مـه او وروسـتی پایلـې بـه یـې د لینـدۍ پـه ۲۹مـه اعـلان شي؛ خـو تېره اونـی د ټاکنـو کمېسـیون د ولسي جرگې د لومړنیـو پایلـو د اعـلان نېټه تـر دوو اونیو وځنډوله. له دغه ځنډ سره داسـې شـکونه او اندېښـنې را ولاړې شـوې دي چـې گواکـي د پایلـو پـه اعـلان کـې دغـه ځنډ پـه ټاکنیـزو کمېسـیونونو کـې د درغلیو او ځینـو پټـو سـیاسي معاملـو د تـرسره کولو لپـاره راغلـی دی.

دا چـې د ټاکنـو پـه پروسـه کـې کومـې تخنیکـي او عملیـاتي سـتونزې موجـودې وې، د ټاکنـو د وروسـتیو پایلـو پـه اړه د پټـو سـیاسي معاملـو او درغلیو په اړه شـته شـکونه او اندېښـنې څـه دي، د ولـسي جرگـې اوولسـمې تقنینـي دورې تـه بـه څه ډول کسـان راځي او د ولسـمشرۍ په ټاکنـو بـه د ولسي جرگـې د ټاکنـو اغېزې څـه وي؟ دا هغـه پوښـتنې دي دلته یې د ځوابولـو هڅـه شـوې ده.

**پـه ټاکنـو کـې تخنیکـي او عملیـاتي سـتونزې**

د ولسي جرگې ټاکنې لـه درې کلن ځنډ وروسـته داسـې مهال ترسره شـوې چې له یـوې خـوا په هېـواد کې د ناامنـی له کبله د رایـې ورکولـو پـه شرایطو برابر هـر افغان پکـې گـډون ونه شـو کـړای او له بلې خوا پـه پوره توگـه له بې نظمـی او درغلیو سره هـم ملي وې.

**پـه دغـو ټاکنـو کـې د تخنیکـي او عملیـاتي سـتونزو پـه اړه لاندې ټکي د یادونـې وړ دي:**

لومړی: د کابـل پـه گـډون د هېـواد پـه هغو سـیمو کـې چې امنیتـي وضعیت یې نسـبتاً ښـه و، د پام وړ خلکـو په ټاکنو کې گـډون درلـود؛ خـو پـه دغـو سـیمې کـې یـوه لویـه سـتونزه د ټاکنـو کمېسـیون د کار مدیریتـي ضعـف و. د ټاکنو په لومړۍ ورځ پـه ډېـرو سـیمو کـې د رایـې ورکونـې مرکزونـه پـه ځنډ سره خـلاص شـول چې لـه املـه یـې ټاکنـې دویمې ورځـې ته هم وغځېـدې، د رایـه ورکوونکـو لېسـتونه هـم د یـوه سـایټ پـه ځای بل سـایټ تـه لېږل شـوي وو چـې لـه کبلـه یـې ډېرې کسـانو پـه لېسـت کـې د نـوم د نـه موجودیت لـه کبلـه رایـه ونـه کاروله، د بایومېټریک ماشـینونو سـتونزې او پـه سم ډول کار نه کـول او یـا هم د بایومېټریک ماشـینونو پر کارونې د ټاکنو کمېسـیون د کارکوونکو او عامـو خلکـو نه پوهېدل او دېتـه ورته نورې هغـه سـتونزې وې چـې دغه پروسـه یې له ننگونـو سره مخ کـړې وه.

دویـم: د ټاکنـو پـه ورځـو کـې بـې نظمـي او پراخـه درغـلي هغـه څـه وو چـې پـه اړه یـې د ټاکنـو څارونکـي بنسـټونه لا هـم اندېښـمن دي. د سـتراتېژیکو او سـیمه ییـزو څېړنـو مرکـز د معلوماتـو پـر بنسـټ، پـه ډېـرې سـیمو کـې چـې د ناامنـی لـه کبلـه هېـڅ رایـه نـه ده پکې کارول شـوې؛ خـو د همـدې سـیمو د رایـو صندقونـه د پیسـو پـه بـدل کـې تـر کمېسـیونه ډک را رسـېدلي دي. د بېلگې په توگـه، د کندوز ولایـت پـه تالـه او برفـک ولسـوالی کـې پرتـه لـه دې چـې څـوک دې پـه ټاکنـو کـې برخـه واخلـي، د یـوه قومانـدان لـه لـوري د مشـخص نومانـد پـه گټـه ۷۰۰۰ رایـې کارول شـوې دي. یـا هـم د وردگـو ولایـت پـه جغتـو ولسـوالی کـې لـه دوو داسـې کلیـو څخـه ۳۵۰۰ رایـې حسـاب شـوې دي چـې اصلاً هلته نه مرکـز وجود درلـود او نـه هـم چـا رایـه کارولـې ده. دې تـه ورتـه د هېـواد پـه مختلفـو سـیمو کـې یـا رایـې پـه پیسـو خرڅـې شـوې دي، یـا د سـیمه ییـزو زورواکـو او قومانداناتـو پـه واسـطه مشـخصو نوماندانـو تـه صندوقونه ډک شـوي او یـا هـم لـه کمېسـیونه ځینـو سـیمو تـه چـې هلتـه د ناامنـی لـه املـه خلکـو رایـه نه شـوی کارولـی، ټاکنیز مواد پـه پوره توگه نـه دي لېږدول شـوي، بلکې پـه کمېسـیون کـې د ننـه د ځینو نوماندانو پـه گټـه صندوقونـه ډک شـوي دي.

د مهندسی تورونه

د ټاکنـو لـه ترسره کېـدو وروسـته کله چې د رایپاڼـو صندوقونـه بېرتـه د هـر ولایـت د ټاکنـو کمېسـیون ولایتي دفتر او بیا مرکز تـه ولېږدول شـول، د کمېسـیون د ننـه یو ځـل بیـا د لاسـوهنو پـه اړه د نوماندانـو د ناظرینو غږ پورته شـو او په دې اړه شـکونه لـه دې املـه هـم را پیـدا کېـږي چـې د ټاکنـو پایلـې په میاشـتو نه اعلانېږي او د پایلو پـه اعـلان کـې همـدا ځنډ پـه لوی لاس فسـاد او درغلیـو ته د زمینـې برابرولو پـه اړه شـکونه پیـدا کوي.

د سـتراتېژیکو او سـیمه ییـزو څېړنـو مرکـز د معلوماتـو پـر بنسـټ، د رایـو د شـمېر پـه پروسـه کـې هـم د ځینـو مشـخصو کاندیدانـو پـه گټـه لاسـوهنې کېـږي. د چـا رایـې زیاتېـږي او د چـا کمېـږي. د زیاتـرو نوماندانـو ناظریـن شـکایت کـوي او وایـي، کـوم لېسـتونه چـې لـه مخې یې دوی د رایـې ورکونـې پـه مرکزونـو کـې د خپلـو نوماندانـو رایـې شـمېرلې وې، د رایو اوسـنی تعـداد یـې هغـه نـه دی. دغـه راز دوی وایـي، د رایـې ورکونـې پـه مرکزونـو کـې چـې د رایـو د صندوقونـو د قلفونـو کـوم کـوډ نمبرونه لـه ځان سره نـوټ کړي دي، اوس د هغـو صندوقونـو د قلفونو کوډ نمبرونـه تغیر شـوي دي او ښـکاره ده چې پـه صندوقونـو کـې لاسـوهنه شـوې ده.

مرکـز تـه د رسـېدلو معلوماتـو پـر بنسـټ ویـل کېـږي چـې د ټاکنیـزو کمېسـیونونو د ننـه د ولـسي جرگـې پـه ټاکنـو کـې د بریـا پـه بدل کې د پیسـو معامله له پنځه لکـه ډالـرو نیولـې بیـا تـر یـو نیـم میلیـون ډالـرو پـورې رسـېږي. دغـه وضعیـت هغـه نومانـدان چـې پیسـې نـه، بلکې یـوازې د ولـس ملاتـړ لـه ځـای سره لـري، د ټاکنـو وروسـتیو پایلـو تـه خـورا اندېښـمن کـړي دي.

پر دې ټولو سربېره، داسـې گنگوسـې هم شـته چـې د یو شـمېر مشـخصو نوماندانو د بریـا لپـاره ارگ هـم هلـې ځلـې کـوي، څـو د دوی د خوښـې کسـان ولـسي جرگـې ته لاره پیدا کـړي او بیا په راتلونکو ولسـمشریزو ټاکنـو کـې د ارگ د اوسـنی ټیـم پـه گټـه کار وکـړي.

**څوک به ولسي جرگې ته ځي؟**

د ولـسي جرگـې ټاکنـو تـه څه بانـدې دوه نیـم زرو کسـانو ځانونه نوماند کـړي وو. په دې ډلـه کـې د ټولنـې د مختلفـو طبقو او فکرونـو خلکـو حضـور درلـود؛ خـو دا چـې څـه ډول کسـان بـه ولـسي جرگـې تـه لاره ومومـي، د مرکـز د شـنونکو پـه انـد شـته وضعیـت تـه پـه کتـو سره بـه لانـدې ډول نومانـدان دې جرگـې تـه لاره ومومـي:

لومـړی؛ د ولـسي جرگـې په ټاکنـو کې به یـو شـمېر هغه کسـان بریـالي شي چې په راتلونکـي کې د امریـکا او حکومت گټو ته ژمـن وي؛ ځکـه حکومت نه غواړي داسـې یـوه ولـسي جرگـه ولـري چې پـه راتلونکي کې ورتـه درد سر واوسي.

دویـم؛ د یـو شـمېر سـیاسي او جهـادي گوندونـو نومانـدان د ولـسي جرگـې پـه ټاکنـو کـې د بریـا خپلولـو بلـه طبقـه ده؛ ځکـه دغـه کسـان هـم لـه سـیاسي او هم لـه مـادي ملاتـړ څخـه برخمـن دي چـې ښـایي د سـیاسي معاملـې پـر بنسـټ یې تـر ولـسي جرگـې ورسـېږي.

درېیـم؛ پـه درېیم قـدم کې ولـسي جرگې تـه د تـگ چانـس تـر ډېـره لـه زورواکانـو، سرمایـه دارو یا سـوداگرو کسـانو سره دی. دوی هڅـه کـوي چـې پـه هـره ممکنـه لار ځـان ولـسي جرگـې تـه ورسـوي، څـو د خپلـو سرمایـو د خونـدي کولـو او لا زیاتولو پـه موخه سـیاسي ملاتـړ هم له ځـان سره ولري.

څلـورم؛ لـه یـادو شـوو دریـو ډلـو هاخـوا څلورمه ډله ښـایي هغه لږ شـمېر کسان د ولـسي جرگـې غـړي شي چې په رښـتینې توگـه یـې وړ دي او غـواړي پرتـه لـه کومې شـخصي گټـې د خپـل ولس اسـتازولي او د هېـواد خدمـت وکړي.

**پـر ولسـمشریزو ټاکنـو د ولسي جرگې د ټاکنـو اغېز**

د ولـسي جرگـې په ټاکنو کـې له یوې خوا درې کالـه ځنـډ او لـه بلې خوا په داسـې بـې نظمـی او درغلـی سره یې ترسره کول، د ټاکنـو خپلـواک کمېسـیون د کمـزورې مدیریت او کم ظرفیتی ښکاره بیان دی.

د ولـسي جرگـې پـه ټاکنـو کـې د شـته سـتونزو لـه املـه پـر کمېسـیون او دغـه پروسـه د خلکـو بـاور خـورا زیانمـن شـوی دی. د ټاکنـو کمېسـیون کـه چېرې د ولـسي جرگـې د ټاکنـو د پایلـو پـه اعـلان کـې له وروسـتی ټـاکل شـوې نېټې څخه نـور هم ځنـډ وکـړي او په دغه پروسـه کې د فسـاد خبره لا را ښـکاره شي، د راتلونکو ولسـمشریزو ټاکنـو د تـرسره کېدو بـاور به پـرې سـخت شي.

د ولـسي جرگـې پـه ټاکنو کـې د هېواد په زیاترو ښـارونو او سـیمو کې خلـک له ټولو امنیتـي گواښـونو سره سره رایـه ورکونـې تـه راووتـل، لسـگونه تنـه یـې د چاودنو او بریدونـو لـه املـه مړه او ټپیـان شـول؛ خو کـه چېرې د کمېسـیون لـه لـوري د دغـو کسـانو رایو ته احترام ونـه شي او له ناپاکو رایـو سره یـې یـو ځـای کـړي، یـو خـو یـې پـه حـق کـې ظلـم دی او بـل دا چـې نـور نـو بیـا دغـه خلـک پـر کمېسـیون بـاور نـه شي کولـی او نـه هـم بـل ځـل پـه داسـې شرایطـو کـې د رایـې ورکونـې پـه موخه له خپـل کـوره را وځـي.

# د بشري حقونو په کمېسیون کې بیا هم د یوې مشخصې کړۍ د ځای پر ځای کولو هڅې کېږي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ته د کمېشنرانو د غوراوي بهیر د کاندیدانو او مدني ټولنو د ځینو غړو له سختو نیوکو سره مخ دی.

د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون اوسنی کمېشنر او کاندید عبدالرحمان هوتک وایي، د غوراوي کمېټه د کمېسیون د ریاست له خوا رامنځته شوې او هغه څه کوي چې د کمېسیون اوسنی رهبري یې غواړي.

د قانون له مخې، د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د کمېشنرانو د غوراوي پروسه باید په هرو پنځو کلونو کې تر سره شي، خو په تېر کې دا کار په خپل وخت نه دی شوی او د یاد کمېسیون اوسنی رییسه هم له تېرو ۱۵ کلونو په خپل ځای پاتې ده.

د یادونې ده چې د یو شمېر مدني بنسټونو له استازو د جوړې شوې غوراوي کمېټې له خوا د کمېسیون د نوې رهبرۍ او کمېشنرانو د انتخاب لپاره له ۳۸۰ کاندیدانو ازموینې اخیستل شوې او له دوو ازموینو وروسته ۸۱ کسان مختلط کمېسیون ته ور معرفي شوي دي.




مختلط کمېسیون چې په تشکیل کې یې ځینې وزیران او د عدلي او قضایي بنسټونو مشران شامل دي، د دغو کسانو له ډلې ۲۵ کاندیدان ولسمشر غني ته د کمېشنرانو د انتخاب په خاطر ور په گوته کوي چې ولسمشر به بیا له دې ډلې نهه تنه د کمېشنرانو په توگه ټاکي. کمېشنران به بیا د کمېسیون رییس د خپلمنځي ټاکنو له لارې غوره کوي.

د ځوانانو د مدني ټولنو د همغږۍ د مرکز مشر عبدالودود افغان وایي، د غوراوي کمېټه باید د مدني ټولنو له خوا رامنځته شي، خو اصلاً په دې برخه کې له دوی سره مشوره نه ده شوې.

دی زیاتوي: «د غوراوي کمېټه چې جوړېدله، د ټول افغانستان په کچه باید له مدني ټولنو سره مشوره شوې وای، انتخابات خو پرېږده، حتی مشوره نه ده شوې او کله چې مشوره نه وي، نو انتخابات به بیا ځنگه وي، نو چې جوړښت مشروع نه دی، نتیجې به یې طبعاً د پوښتنې وړ وي.»

د معلوماتو له مخې، له یو شمېر مدني ټولنو جوړې د کمېشنرانو د غوراوي کمېټې له غړو څلور تنه یې په یو قوم پورې اړه لري.

د غوراوي کمېټې یوه غړې نویده کاکړ بیا په دې برخه کې تر یوه بریده ستونزې مني، خو وایي چې دوی شفافیت ته ژمن دي.

دا وایي: «زموږ په کمېټه کې د هزاره وروڼو نفوس زیات و، دوی څلور او موږ دوه کسان وو. دوی به بعضې کسانو ته له وړتیا سره سره ټیټې نمبرې ورکولې.»

کاکړ دا هم وایي چې د کمېسیون اوسنی مشره سیما سمر بیا کاندیده ده او د خپل شهرت او نفوس څخه په استفادې، لرې نه ده چې نوموړې له دې بهیره بریالی را ووځي. د حقوقي چارو کارپوه کبیر رنجبر وایي، له حقوقي اړخه د اغلې سمر بیا کاندیدکېدل څه ستونزه نه لري، خو په اخلاقي لحاظ ډېره ستره ستونزه ده.

نوموړی وایي، د سمر کاري دوره ناکامه وه او باید ځوانې رهبرۍ ته د کار کولو فرصت ورکړل شي.

# نازولي څه ډول عدالت غواړي؟

مصور څړوال

په شپه کې یې پر ښار غدۍ گډه کړه او نوم یې پرې د عدالت غوښتنې لاریون کېښود. لارې یې وتړلې، روغتونونه یې وتړل، پوهنتونونه یې وتړل او ښاریانو ته یې لوی سرخوږی جوړ کړ. پلمه یې جوړه وه، ځکه چې په اروزگان او غزني کې د ولس او طالبانو ترون مات شو؛ ځکه چې طالبانو د اروزگان زورواکي تر جاغوریو وځغلول او په جاغوریو کې یې هم په ارام پرېښودل. دوی حکومت گرم کړ چې د خلکو د امنیت په ټینگښت کې پاتې راغلی دی.

همدا روان کال په فراه او غزني کې سختې جگړې وشوې، ان تر دې چې دغه ولایتونه سقوط شول. ویل کېږي چې د فراه په سقوط کې د ایران لاس او د غزني په سقوط کې بیا د پاکستان لاس تر دې کچې و چې ان پوځیان یې د طالبانو په لیکو کې جنگېدل. هغه مهال یې نه حکومت گرم کړ چې د خلکو د امنیت په ساتلو کې پاتې راغلی او نه یې هم طالبانو ته د پړې گوته ونیوله چې ولې یې د مور وطن دوه غرې ټوټه ټوټه کړل.

طالب، اربکي او د دوی ملاتړي دا ۱۷ کاله د یوه مشخص قوم ویني زبېښي او نور یې ننداره کوي. ننداره خو لا څه کوې، له طالبانو سره پروتوکولونه او خورا ښې اړیکې لري. د دوی مشرانو د یوه مشخص قوم د سر سړي پر بهرنیو ځواکونو په دې پلمه چې ترهگر دي، قتل کړل. د دوی مشرانو د یوه مشخص قوم پر کلیو او کورونو د لویو بمونو د غورځولو غوښتنه کوله، دوی او مشران یې دا ۱۷ کاله ژوند ته وزگار وو، خو د وطن لویه برخه وگړي د ژوند له حقه محروم، د ډرون او بې پیلوټه بمباریو ښکار وو. پر بشري جنایتونو تورن مخکښ زورواکي، حکیم شجاعي چې په حکومت کې د هزاره چارواکو کلک ملاتړ ورسره دی، له یوې لسیزې راهیسې له هېڅ ډول جنایت او خیانت مخ ونه گرځاوه، که به چا د ده له جنایتونو پرده پورته کوله، نو د «افغانستان تر ټولو مدني» خلکو به یې مخالفت کاوه، ان تر دې چې د شجاعي مخالفت به یې د ملي یووالي پر زیان گاڼه. له دې ټولو سره سره عدالت تامین و، حکومت د خلکو امنیت نیولی و او په ټول وطن کې خیر او خیریت و؛ مگر نن چې طالب او شجاعي سره وران شول، نن چې دوی د پښتنو د وژنې ننداري ته وخت نه شي موندلی؛ نه عدالت شته او نه حکومت د خلکو امنیت ټینگولی شي.

لاریونونه او اعتراضونه د خلکو حق دی او له دغه حقه انکار نه شي کېدای؛ مگر د لاریونونو دلیل او څرنگوالی باید منطقي وي. موږ د هېواد د وگړو خو څه چې د وطن د مرغانو پر مرگ لا خواشیني کېږو، ځکه موږ ۱۷ کاله وژل شوي یو او د پردیو په لاس او د پردیو لپاره د وژل کېدو درد تر بل هر چا ښه حس کولی شو.

کله چې موږ د عدالت د ټینگښت شعارونه زمزمه کوو، نو تر هر څه وړاندې باید خپله عادلانه چلند وکړو. دا عدالت نه دی چې د اروزگان او جاغوریو د جگړو په تړس کې د کابل ښاریانو لارې وتړو. دا عدالت نه دی چې د ښوونځیو، پوهنتونونو، روغتونونو او ادارو دروازې وتړو او خلک له عامه خدمتونو محروم کړو. که عدالت غواړو، نو تر ټولو وړاندې باید د حکیم شجاعي په څېر د جنایتکارانو ملاتړ پرېږدو او محاکمې ته یې زمینه برابره کړو. که عدالت غواړو نو په ننگرهار کې د خلکو پر وژل کېدو باید کټ مټ هغسې ویر وکړو کوم چې په جاغوریو او مالستان کې یې د خپلو هېوادوالو پر مړینه کوو. که عدالت او امنیت غواړو، نو باید د ټول افغانستان لپاره عدالت او امنیت وغواړو، ځکه دا عدالت نه دی چې نیم پوځ دې د جاغوریو او مالستان د خلکو په چوپړ کې وي، خو په اندړو او مقر کې دې د ناامنۍ له لاسه ښوونځي تړلي وي.

له بده مرغه موږ د یوه داسې هېواد اوسېدونکي یو چې بهرنیو استخباراتو ته پکې د پراخه فعالیت زمینه برابره ده. له بلې خوا داسې افراطي ډیموکراسي تجربه کوو چې د فردي ازادۍ حدود مو ان د ملي او اسلامي ارزښتونو حدود ماتوي. دلته هر څوک، د هر چا له خوا او د هر چا په ملاتړ لاریونونه کولی شي، لارې بندولی شي او د ښار نظم له منځه وړلی شي.

په داسې حال کې چې په هېواد کې وار له مخه د نیابتي جگړو د پیل گواښ او وېره موجوده ده، نو بې مانا لاریونونه او غیر منطقي شعارونه دا گواښ لا جدي کولی شي. حکومت ته بویه چې د پرونیو لاریونونو په تړاو پلټنه وکړي، څو معلومه کړي چې د پردي تر شا خو پردي لاسونه کار نه کوي. ځکه له بده مرغه چې د فاطمیونو پروژه روانه ده او هېواد ته ترې جدي گواښ متوجه دی.

# شنونکي: پر ایران د امریکا تر بندیزونو وروسته طالبانو خپله جنگي ستراتېژي بدله کړې ده



پر ایران د امریکا له تازه بندیزونو وروسته په افغانستان کې هغه سیمې هم د نا امنه کېدو له گواښ سره مخ دي چې امریکا یې د خپل ماموریت په دوره کې د افغانستان په کچه تر ټولو امن سیمې گڼې.

طالبانو په تېرو ۱۷ کلونو کې د لومړي ځل لپاره پر هزاره مېشتو سیمو بریدونه پیل کړي او یو شمېر سیمې یې سقوط کړې دي.

دغه بریدونه د اروزگان له خاص اروزگان ولسوالۍ پیل شول او د غزني جاغوریو او مالستان ولسوالیو ته وغځول شول.

د چارو شنونکي وایي، پر ایران د امریکا له بندیزونو وروسته ایران هڅه کوي د طالبانو له لارې په افغانستان کې هغه سیمې نا امنه کړي چې د امریکا له خوا امن سیمې گڼل کېږي او د دوی لپاره یو امتیاز دی.

د چارو شنونکی حامد مصباح وایي، د واشنگټن او تهران ترمنځ وروستۍ شخړې په افغانستان کې د ایران د مداخلې سبب شوې دي.

مصباح پر دې باور دی چې په خاص اروزگان، جاغوریو او مالستان کې د طالبانو وروستي بریدونه هم د امریکا د بندیزونو پر وړاندې د ایران غبرگون دی.

د چارو شنونکي وایي، له دې وړاندې په هزاره مېشتو سیمو کې د یوه توافق له مخې وسله والو طالبانو له وسلو پرته په آزاد ډول تگ - راتگ او درملنه کوله، خو پر ایران د امریکا له بندیزونو وروسته د طالبانو جنگي ستراتېژي بدله شوې ده.

طالبانو د یوې اعلامیې په ترڅ کې ویلي چې ددوی جگړه د کوم قوم او مذهب د خلکو خلاف نه ده، بلکې دوی پر ټولو هغو سیمو عملیات کوي چې هلته حکومت او بهرنیان مسلط دي.

په ملي شورا کې د غزني استازي او د دغه ولایت قومي مشران وایي چې جگړه د غزني ولایت د مرکز څنډو ته رسېدلې او که حکومت یې په تړاو په وخت سره اقدام ونه کړي، غزني به یو ځل بیا له سقوط سره مخ شي.

د ولسي جرگې غړی علي علیزاده وایي چې ورمه شپه هم په سلگونو طالب جنگیالي د جگړې لپاره د جاغوریو شاوخوا سیمو ته رسېدلي او سختې جگړې ته چمتووالی نیسي.

د هزاره مېشتو سیمو په تړاو د طالبانو په سیاست او ستراتېژۍ کې دا تغیر داسې مهال دی چې متحده ایالاتو پر ایران تازه بندیزونه لگولي او دغه هېواد هم له وسله والو طالبانو سره خپلې اړیکې تر پخوا زیاتې او پراخې کړې دي.

پر ایران د امریکا بندیزونه له دې کبله دي چې له یوې خوا خو ایران خپل اټومي پروگرام نه دی محدود کړی او له بلې خوا تهران د سیمې، په ځانگړي ډول منځنی ختیځ، په چارو کې لاسوهنه کوي.

# په غزه کې د نښتو له کبله د اسرائیلو لومړي وزیر د پاریس سفر په نیمایي کې پرېښود



د اسرائیلو لومړي وزیر په غزه کې د نښتو له پیل وروسته فرانسې ته خپل سفر په نیمایي کې پرېښې او خپل هېواد ته ستون شوی.

د اسرائیلو پوځ وایي چې د غزې تړانگې په سوېل ختیځه برخه کې د پوځي عملیاتو پرمهال یو اسرائیلي افسر وژل شوی او یو بل برسېرن ټپي دی.

چارواکو ویلي چې دا مرگ ژوبله له فلسطینیانو سره د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځته شوې ده. فلسطینیان وایي، په دې نښتو کې د دوی له لوري اووه کسان وژل شوي چې پنځه پکې د حماس وسله وال دي.

د اسرائیلو د لومړي وزیر دفتر پرون وویل چې نتنیاهو پاریس ته خپل سفر د همدې پېښې له کبله په نیمایي کې پرېښود او پرون بېرته خپل هېواد ته ستون شو.

فلسطینیانو له تېرو څلورو میاشتو راهیسې په غزه کې اعتراضونه پیل کړي او هڅه کوي چې د اسرائیلو له لوري خپلو اشغال شویو سیمو ته ستانه شي. اسرائیلي پوځیان د هغوی مخنیوی کوي او دغه راز یې پر وړاندې په تاوتریخجنو اقداماتو لاس پورې کوي.

د اسرائیلو او فلسطینیانو ترمنځ دا نښتې څو ورځې وروسته له هغه کېږي چې حماس او اسرائیلو د پولې په اوږدو کې د څو میاشتني کړکېچ د کمولو لپاره ځینې گامونه واخیستل.

په غزه کې د اعتراضونو له پیله بیا تر اوسه شاوخوا ۱۷۰ اعتراض کوونکي چې بې وسلې او ملکي خلک وو، د اسرائیلي پوځیانو په ډزو سره وژل شوي دي.

د دې کړکېچ له دوامداره کېدو وروسته دواړو خواوو داسې وانگېرله چې ښایي د یو غیر رسمي اوربند وخت را رسېدلی وي.

تېره اونۍ اسرائیلو قطر ته اجازه ورکړه چې د ۱۵ میلیونو ډالرو په ارزښت د مرستې مواد غزې ته چې د حماس تر ولکې لاندې ده، واستوي او حماس هم اعتراضونه راکم کړل.

خو له دې سره سره بیا هم د فلسطیني فعالانو او اسرائیلي پوځیانو ترمنځ دا نښتې د هغو هڅو بریا په شک کې اچوي چې اسرائیل او حماس د څو میاشتو نښتو د پای ته رسېدو په مقصد پیل کړې دي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

## ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

لیکوال: جان مکسوېل
ژباړن: میـراحمد یـاد

### ځوارلسمه ځانګړنه
### د ستونزې حل:




**دې ته تم شئ**

د سام والتون په څېر اغېزناک رهبران ټول عمر ستونزو او ننګونو ته نېغ ولاړ وي او دا چاره ګټونکي له بایلونکو جلا کوي. په هغه وخت کې نورو ټولو خرده فروشانو له سیالۍ او بازارونو سر ټکاوه، خو دی لګیا و، له خپل خلاقیته یې کار اخیسته او خپلې ستونزې یې حل کولې.

هر رهبر چې په هره برخه کې کار کوي، په هر حالت کې باید له یو لړ ستونزو او ننګونو سره مخ شي. د ستونزو پیدا کېدو مخه په درې دلایلو نه نیول کېږي:

- مونږ د تنوع او پېچلتیاوو په نړۍ کې ژوند کوو.
- له خلکو سره تبادله کوو؛ او
- هغه ټول حالات او شرایط نشو کنترولولی چې مونږ ورسره مخ کېږو.

کوم رهبران چې د ستونزو د حل ښه وړتیا لري، دا پنځه ځانګړنې پکې وي:

**۱) مسایل پېشبیني کوي.**

دا چې د ستونزو مخه نه نیول کېږي، نو ښه رهبران یې پېشبیني کوي، یعنې دوی پوهېږي چې ستونزې به راځي. که هر څوک دا فکر وکړي چې دی په سمه او اسانه لارې روان دی، نو له ستونزو سره مخ به شي. ډېوېډ لیوینګستون افریقا ته په ماموریت لېږل شوی و، دا کیسه به درته د رهبرانو ذهنیت ښه څرګند کړي. کوم سازمان چې دی یې لېږلی و، غوښتل یې چې مرستې ته ځینې نور خلک ور ولېږي، په دې خاطر د سازمان مسئول یو لیک ولېږه او له ډېوېډ یې د کسانو لېږلو اسانه لاره وپوښتله. هغه ورته په ځواب کې ولیکل: (که ستاسې خلک په پاخه سرک په تمه راځي، نو زه ورته اړتیا نه لرم، زما داسې خلک پکار دي چې بېخي سرک نه وي، همدوی باید سفر ته تیار وي.) که چېرې ستاسې لیدلوری او ذهنیت مثبت وي او تر ټولو بدې پېښې هم په نظر کې ونیسئ، نو د راتلونکو ستونزو د حل لپاره ښه حالت او موقعیت پیدا کولای شئ.

**۲) دوی حقایق مني**

خلک معمولاً له ستونزو سره په مخ کېدو دا غبرګونونه ښیي: یا بېخي ستونزې نه مني، یا یې مني او بېرته مخ ترې اړوي یا ستونزې مني او هڅه کوي چې ستونزې حل او حالات ښه کړي. رهبران باید تل په دریېمه تګلاره عمل وکړي.

پاول هاروي وايي: (په داسې حالاتو کې دا فکر ښه دی چې ووایو، حالات تل همداسې وي.) هېڅ رهبر نشي کولای چې خپل سر پناه کړي او نور خلک خطر منلو ته رهبري کړي. اغېزناک رهبران د حالاتو له حقیقت سره مخامخ کېږي.

**۳) دوی پراخ نظر لري**

د رهبرانو نظر باید پراخ وي، باید اوږدمهالی لید ولري او هېڅ وخت د عواطفو او احساساتو تر اغېزې لاندې نه راځي. بله دا چې جزئیاتو ته دې دومره نه ورننوځي چې اصلي هدف ترې پاتې شي. الفرد ارماند مونتاپرت لیکي چې: (زیاتره خلک خنډونهویني، خو داسې خلک لږ دي چې واقعیتونو ته په لیدو اهداف له یاده نه باسي. تاریخ ټول عمر د دوهمې ډلې بریا ثبت کړې ده، او بې خبري او بې عقلي د لومړۍ ډلې په نصیب کېږي.)

**٤) دوی په یوه وخت یو کار کوي**

د ریچارډ اسلوما یو نصیحت دا دی چې: (هېڅکله هڅه مه کوئ چې ټولې ستونزې په یو وار حل کړئ، بلکې یوه یوه په خپل وخت حل کوئ.)

زیاتره وخت رهبران هله له ستونزو سره مخ کېږي چې غواړي ټولې ستونزې په یوه وار حل کړي او دا پرې پېټی کېږي. که له بېلابېلو او ډېرو ستونزو سره مخ یئ، نو هڅه وکړئ چې په یوه وخت یوه ستونزه حل کړئ.

**۵) په بدو حالاتو کې هم لوی اهداف مه هېروئ**

ښه رهبران هغه وخت پرېکړه کوي چې د خپلې رهبرۍ ښه وخت تجربه کوي. دوی پرېکړې بدو او کړکېچنو حالانو ته نه پرېږدي. د باسکټبال لوبغاړی وایي چې زه له تمریناتي کمپه د کېناستو پر وخت پرېکړې نه کوم. دی پوهېږي چې په بدو شرایطو کې باید تسلیم نشي.

**پر دې فکر وکړئ**

لیکوال، جورج ماتیو ادامز وایي: (فکر مو د ژوند تر هر اړخه مهم دی، له عایده مهم دی، له کوره مهم دی، له ټولنیز موقفه مهم دی او نور چې ستاسې په اړه څه فکر کوي، له هغو ټولو مهم دی. هره ستونزه تاسې ته ستاسې خپل ځان در پېژني، درته ښيي چې تاسې څه ډول فکر کوئ او له څه شي جوړ شوي یئ.

کله چې له ستونزې سره مخ شئ، څه غبرګون ښیئ؟ په ستونزې سترګې پټوئ او په دې تمه کېنئ چې ګني خپله به حل شي؟ که نه داسې احساسوئ چې د ستونزې د حل لپاره کافي قوت نه لرئ؟ آیا پخوا د ستونزو په حل کې له سختو حالاتو سره مخ شوي یئ؟ د ستونزو د حل اغېزناک قوت هله پیدا کېږئ چې تاسې له ستونزې سره مخ شی او د حل د لارې خنډونه یې لرې کړئ. هر ځل چې ستونزه حل کوئ، نوی مهارت پیدا کوئ، خو که د ستونزې د حل هڅه ونه کړئ، نو ګټور مهارت هم نشی موندلئ. **دوام لري...**

# الفرد نوبل

حکمت ارین



الفرد نوبل د ۱۷مې زېږدیزې پېړۍ له پوهانو څخه وو. نوموړی د ۱۸۳۳ ز کال د اکتوبر په میاشت کې په سویډن کې د امانوېل نوبل په کورنۍ کې وزیږېد. مور یې اندریته السل نومېده او دی یې دریېم زوی و. د نوبل کورنۍ په ۱۸۴۲ ز کال کې له ستاکهلم نه سن پیټرزبورګ ته کډواله شوه. پلار یې هلته یوه کارخانه جوړه کړه چې د لرګي تختې به یې جوړولې. وروسته یې یوه بله کارخانه هم جوړه کړه. دا چې نوموړي په دویمه کارخانه کې څه جوړول، په اړه یې دومره ویل شوي چې هغه د وسلو جوړولو بله کارخانه هم درلوده.

الفرد په پیټرزبورګ ښار کې د نیکلای نیکلایوېچ زینین تر نظر لاندې د وسلو زده کړې پیل کړې. په ۱۸۵۹ ز کال کې د دوی د کورنۍ د وسلو جوړولو چارې د الفرد نوبل دویم ورور لوډویګ نوبل په غاړه واخیستې چې ډېره پراختیا یې هم ورکړه.

دا کارخانه د څه وخت په تېرېدو سره له ماتې سره مخ شوه او الفرد له خپلې کورنۍ سره امریکا ته ولاړ. هغه خپل ټول وخت د چاودېدونکو توکو په ځانګړې توګه له نیټروګلیسیرین نه د سمې کارونې پر مطالعه تېر کړ. نیټروګلیسیرین په ۱۸۴۷ ز کال کې د اسکانیو سوبرو له خوا په تورین پوهنتون کې جوړ شو.

په ۱۸٦۴ ز کال کې د الفرد د کورنۍ د وسلو جوړولو په کارخانه کې چې په هلنبوري یې پېرلې وه، څو چاودنې وشوې چې له امله یې د الفرد کشري ورور او څو نورو کسانو چې په همدې کارخانه کې یې کار کاوه، خپل ژوند له لاسه ورکړ.

په ۱۸٦٦ ز کال کې الفرد وتوانېد چې د المان په هامبورګ ښار کې له ډېرو هڅو وروسته ډینامیټ کشف کړي چې په ۱۸٦۷ ز کال کې د نوموړي په نوم ثبت شو.

دغه راز نوبل د نمسیس په نامه یوه نمایش نامه هم په لیکلې بڼه جوړه کړه. دا نمایشنامه د ایټالیا د ځلورو نجیب زاده ګانو پر ژوند او کار جوړه شوې وه چې پکې د هغوی د ژوند په اړه لنډ معلومات او نور یې مقدساتو ته سپکاوی و. دا نمایشنامه چې د بیشه شلي له مشهور کتاب درام سنسي نه هم پکې ځینې برخې راخیستل شوې وې، د نوموړي د ژوند په وروستیو کې چاپ شوه او ډېر غبرګونونه یې هم را وپارول، خو دا چې نوموړی هغه وخت په دنیا کې نه و، نو دا غوغاوې هم ژر خاموشې شوې.

خو دغه کتاب چې په دوو ژبو (سویډني او سپرانتو) لیکل شوی و، د نوموړي له ژوند وروسته ورک شو او تر اوسه یې کوم څرک نه دی لګېدلی، یوه نسخه یې چې په سویډن کې پیدا شوه، په ۲۰۰۳ ز کال کې بیا چاپ شوه، خو دا ځل یې په اړه هېڅ غبرګونونه نه وو.

الفرد یو انجنیر، مبتکر او د وسلو مخترع و. هغه د ژوند له پیل نه تر مرګ پورې د وسلو جوړونې د نامتو کمپنۍ فوربس مشر و. الفرد د اوسپنې ویلو کولو کمپنۍ نه نیولې بیا د وسلو جوړولو تر کمپنۍ پورې ټول ښه او بد تجربه کړل. الفرد په وروستۍ وصیت نامه کې خپله پانګه د نوبل جایزې ته ځانګړې کړه چې اوسمهال په کال کې یو ځل هغو کسانو ته ورکول کېږي چې اختراع یې کړې وي او یا هم په نورو برخو کې ډېر فعال پاتې شوي وي.

د نوبل لومړۍ جایزه په طب کې ده. ګټونکو ته یې هر کال نقدي جایزه، یو ډیپلوم او د سرو زرو یو مډال ورکول کېږي. دا جایزه داسې کسانو ته ورکول کېږي چې خدمتونه او نوښتونه یې دومداره او تلپاتې وي، د ملتونو ترمنځ یې د ورورولۍ د ټینګښت، وسله والو مخالفتونو د ختمولو او د سولې په برخه کې یې فعالیتونه او هلې ځلې کړې وي.

د نوبل جایزې ګټونکو ته د سرو زرو د مډال او ډیپلوم ترڅنګ اته میلیونه کرون چې شاوخوا ۹۳۰ زره ډالره کېږي، هم ورکول کېږي.

څېړونکي، پوهان او نوښتګر کلونه- کلونه انتظار کوي چې د نوبل د جایزې بنسټ یې هڅې او لاسته راوړنې په رسمیت ومني. د نوبل د جایزې پرېکړه کوونکي هم کلونه - کلونه پلټنې کوي چې معلومه کړي، د کاندیدانو په بېلابېلو علمي برخو کې شوي نوښتونه تلپاتې او په علمي اصولو ولاړې دي.

د نوبل جایزې کمېټه یوازینۍ کمېټه ده چې د محققینو او نوښتګرو تېرو فعالیتونو او نوښتونو ته درناوی کوي او ارزښت ورکوي. الفرد ته له همدې کبله په ټوله نړۍ کې په ډېره درنه سترګه کتل کېږي. هغه ته له دې امله د نړۍ د نوښتګر نوم ورکړل شوی چې خپل ټول ژوند یې لومړی خپل ولس، بیا ټولې سیمې او ټولې نړۍ ته په خدمت کولو کې تېر کړ.

که څه هم د هغه هڅې د دې لپاره وې چې خپل هېواد په داسې یو ځای تبدیل کړي چې د ټولو انسانانو لپاره پکې حقوق یو شان ورکړل شي. د انساني ژوند د هوساینې لپاره د نوموړي هڅې د پام وړ بلل شوې دي. سویډنی کارپوه او د دغه هېواد په مرکزي پوهنتون کې د تاریخ استاد ټوماس ډیکوک وايي: «که څه هم کله چې هغه د اوسپنې ویلې کولو کمپنۍ د وسلو جوړولو په کمپنۍ بدلوله، د نوموړي په اړه نظرونه منفي شول. ټولو به یې په اړه ویل چې هغه غواړي نړۍ له یوه نوي ګواښ سره مخ کړي، خو داسې نه و. هغه یو مخترع و؛ ځکه وسلې یې جوړولې او د ټولې نړۍ لپاره یې د قدرت د نیولو او ساتلو لپاره یوه نوې وسیله را منځته کړه چې وروسته یې بیا دغه کار ته پراختیا ورکړه او ډینامیټ یې هم اختراع کړ. په ټوله کې که ووایو هغه د نوښتونو یوه زېرمه وه، خدای دې له هغه نه راضي وي. هغه د نړۍ په سیاست کې یو پیاوړی کس یادولی شو او په دې توګه ویلی شو چې نوموړي د نظامونو د بقا او انساني ژوند د هوساینې لپاره که څه هم د خلکو په نظر ګواښوونکي کارونه کړي دي، خو اوس یې نړۍ د یو نوښتګر کس په نوم پېژني او هغه ته د احترام په خاطر د نوموړي په نوم د نړۍ نوښتګرو اشخاصو ته کلنۍ جایزې ورکول کېږي؛ دا د دې ښکارندویې کوي چې هغه نه یوازې یو نوښتګر و، بلکې داسې یو کس و چې نړیوال ورته په ډېر احترام قایل دي.»

کله چې ډینامیټ جوړ شو، نو الفرد نوبل هڅه وکړه تر څو دا ماده په یو ډول نه یو ډول تر یو څه وخته پټه وساتي، خو وروسته یې یا پرېکړه بدله شوه او یا ترې په ناخبرۍ کې خلک خبر شول. ځکه ډینامیټ له نیټروګلیسیرین نه جوړه شوې ماده ده چې په ۱۸٦۷ ز کال کې د ځینو نورو مادو په ترکیب کې د نوبل له خوا په همدې نامه ثبت شوه او د کارپوهانو په باور د پټولو لامل یې هم دا و چې ده غوښتل تر دې هم یو څه پرمختللې څه جوړ کړي.

نوموړي په لومړي ځل دا ماده د ۱۸٦۷ ز کال په اکتوبر میاشت کې په انګلستان کې د ښکار په یو لړ مراسمو کې نندارې ته وړاندې کړه چې د ټولو خلکو له هرکلي سره مخ شوه چې وروسته بیا نوموړي پراختیا ورکړه او د یوې پراخې تخریبوونکې مادې په توګه یې ترې په وسلو او چاودېدونکو موادو کې کار واخیست.

دا ماده د بارودو په پرتله ډېره ساحه خرابولی شي، خو اوربلوونکې نه ده. ډینامیټ لومړنۍ چاودېدونکې ماده وه چې کنټرولېده او تر بارودو یې تخریب ډېر و. دا ماده په لومړیو کې د نوبل د چاودېدونکي توکي په نوم پلورل کېده،، خو وروسته له معرفي کېدو یې ډېر شهرت خپل کړ او د بارودو پر ځای یې د کارونې موارد ډېر شول او خورا ډېره پلورل کېده. نوبل د ډینامیټ پر جوړونې په ټولیزه توګه نظارت او څارنه کوله. که څه هم امریکایانو هڅه وکړه چې په لږ تغیر سره دا ماده د ځان په نوم ثبت کړي، خو د ډینامیټ بازار یې سوړ نه کړ او د ډینامیټ د زیات پلور له امله الفرد نوبل په بې سارې توګه پانګه تر لاسه کړه.

د نوموړي یو بل محصول د نیټروګلیسیرین مخلوط و چې تر ډینامیټ یې هم منفجره ځواک پیاوړی و او کولی یې شوای چې د ډینامیټ په پرتله ډېره ساحه تخریب کړي. دا ماده د منفجره ژل په نوم د وسلو او منفجره توکو بازار ته راغله چې په ۱۸۷٦ ز کال کې ثبت شوه. خو ویل کېږي چې دا ماده هم د ډینامیټ په څېر جوړېدله.

اوس راځو دې ته چې د نوبل جایزه د چا له خوا او چاته ورکول کېږي.

سویډني شتمن او د ډینامیټ مخترع، الفرد نوبل په خپل نوښت او غوښتنه دا جایزه جوړه او وټاکله. د نوبل جایزه د طب، فزیک، کیمیا، ادبیاتو او سولې د برخې مخورو او نه ستړي کېدونکو فعالانو او نوښتګرو ته ورکول کېږي. دا جایزه په لومړي ځل د نوبل له مړینې پنځه کاله وروسته په ۱۹۰۱ز کال کې ورکړل شوه. د اقتصاد د نوبل جایزه، د سویډن مرکزي بانک په ۱۹٦۸ ز کال کې د الفرد په درنښت او یاد کې د اقتصاد د برخې د نوبل جایزه وټاکله چې رسمي نوم یې په اقتصاد کې د سویډن د بانک جایزه دی، خو د دې جایزې د ګټلو معیار هم د نوبل د جایزې د ګټلو له معیارونو سره برابر دی او په همدې لړ کې ورکول کېږي.

نوبل په ۱۸۹۵ ز کال کې په خپل وصیت کې د دې جایزې پرېکړه کوونکي مشخص کړي دي. د هغه د وصیت پر اساس، د ستاکهولم د کارولینسکه انستیتوب د طب، د سویډن د شاهي علومو اکاډمۍ د فزیک او کیمیا او د سویډن اکاډمي د ادبیاتو د برخې کارکووکي، ګټونکي ټاکي او اعلانوي.

نوبل په خپل وصیبت کې د سولې د جایزې د ګټونکي پرېکړه هغه پلاوي ته سپارلې چې د ناروې پارلمان ټاکي، خو نه یې دې ویلي چې ولې یې د دې جایزې پرېکړه ناروې ته پرېښې ده. هغه مهال چې الفرد نوبل د دې جایزې د ټاکلو غوښتنه کوله، سویډن او ناروې د یوه اتحاد غړي وو چې بیا په ۱۹۰۵ ز کال له دغه اتحاد نه ووتل. ناروې په سیمه کې یو سوله خوښی هېواد بلل کېده او سویډن پر خپلو ګاونډیانو د یرغلونو تاریخ درلود. شاید په همدې دلیل ناروې ته د سولې د جایزې د ورکولو پرېکړه سپارل شوې وي. په نړۍ کې زرګونه کسان دې جایزې ته کاندیدان وي چې د پوهنتون استادان، وکیلان، د نوبل د جایزې مخکني ګټونکي او په خپله د نوبل د جایزې د ټاکونکو کمېټو ځینې غړي وي. د اصولو له مخې پرېکړه کوونکي باید د نوبل جایزې د کاندیدانو هویت تر ۵۰ کلونو پورې وساتي. د ګټونکي تر اعلان مخکې، پرېکړه کوونکي حق نه لري چې د ګټونکو په اړه خبرې وکړي، خو کله ناکله هغوی چې دې جایزې ته نور کسان کاندیدوي، خپله پرېکړه په ډاګه کوي.

همیانۍ

# دا اته رازونه مو بریا ته رسوي

ژباړه: امان الله «حنیفي»

هرڅوک غواړي ژوند یې ښه او په داسې ډول برابر شي، څنګه یې چې زړه غواړي. بې له شکه چې هر څوک دا هیله لري، خو ډېر ورته نه رسېږي، یوازې کم شمېر کسان دي چې دا هیلې یې پر حقیقت بدلېږي. هغوی څوک دي او څنګه دې هیلو ته رسېدلي دي؟

هغوی نه نابغه ګان دي او نه هم له تاسې زیاتې وړتیاوې لري. هغوی له تاسې سره یوازې یو توپیر لري، هغه دا چې هغوی د ځان لپاره هدف ټاکلی، هر څه چې کوي، یو ټاکلي هدف ته د رسېدو په خاطر یې ترسره کوي. که غواړی د هغوی په شان ښه او خوښ ژوند ولری، ځان ته مو هدفونه وټاکئ او هر هدف ته د رسېدو لپاره خپله ټوله انرژي پر کار واچوئ.

هدف ته رسېدل مو یوازینی ارمان دی، که ورته ورسېدی، خوشالي به مو په برخه شي. څنګه دا خوشالي په خپله برخه کړی؟

په ډېرې اسانۍ سره کولای شی دا خوشالي ترلاسه کړی. وار له لاسه مه ورکوی، دغه اته رازونه مو خوشحالۍ ته د رسېدو پر لار لاسنیوی کوي.

**۱- له کار سره مینه لرل**

بریا ته د رسېدو لومړی راز له کار سره مینه او علاقه لرل دي. د ډایملر کرایسلر شرکت بنسټګر فریمن توماس وایي: «زما د کامیابۍ راز له خپل کار سره مینه او علاقه ده». بریالي کسان یوازې هغه کار سرته رسوي چې مینه او علاقه ور سره لري. که مو د خپلې خوښې ور کار تر سره کړ، ډېر څه به لاسته راوړی. مخکې له دې چې پر یوه کار شروع وکړی، لومړی له ځانه وپوښتئ، رښتیا له دې کار سره زما علاقه شته او که په زور راباندې تحمیل شوی؟ که مو کار یا دنده په زړه پورې نه وه، هېڅ یې مه کوئ، ځکه دا به مو په زړه جوړ نه وي او هر وخت به ترې په تنګ راځی. کله چې له دندې او کار نه په تنګ شی، دا مو وجود کې شته وړتیاوې وژني او نه مو پرېږدي چې له خپلو وړتیاوو ښه ګټه واخلی. یوازې هغه کار او دنده پر مخ یوسئ چې مینه ورسره لری.

**۲- هڅه او کوښښ**

د بریا دویم راز په هڅه او کوښښ کې نغښتی. روپرټ مورداک د څو لویو شرکتونو مدیر او په نړۍ کې پېژندل شوی کس د خپلې کامیابۍ او لاسته راوړنو راز هڅه او کوښښ بولي. هغه وایي: «هېڅ شی اسانه لاس ته نه راځي، کامیاب او بریالي کسان ډېر زحمت باسي، هڅه او کوښښ خپله یو سرخوږی دی، بریالي کسان د کار کولو معتادان نه دي، هغوی له خپلې هڅې او کوښښ نه خوند اخلي.»

ممکنه نه ده چې په لومړۍ هڅه او کوښښ به خپل هدف ته ورسېږی. هدف ته د رسېدو پر لار به ډېر ځله لوېږی، خندونه او ستونزې به مو مخه ډب کوي، خو تاسې به لکه روانې اوبه تل روان وی، له تېږو سره به سر لګوی، په کړلېچونو کې به تاوېږی را تاوېږی، خو حرکت به مو تر هغې نه درېږي څو خپل ټاکلي هدف ته نه یی رسېدلي.

**۳- پرله پسې تکرار**

الکس ګارد د یوه لوی شرکت مدیر وایي: «تکرار او تمرین د کامیابۍ راز دی». د هغه په خبره کامیابي لاسته راوړل څه جادوګر کار نه دی، بلکې هغه تکرار، تکرار او تکرار دی. هېڅوک د مور له نسه اتل او قهرمان نه دي زیږېدلي، هغوی په وار وار یو کار سرته رسولی. څومره چې پر یو کار ډېر تکرار او تمرین وکړی، هغومره مو د هغه کار په اړه وړتیاوې پیاوړې کېږي. که غواړی چې په خپل کار او دنده کې مو لا ښې لاسته راوړنې ولری، ډېر تکرار او تمرین پرې وکړئ.

**۴-پر ځانګړې موخه تمرکز**

وتلی فېلم جوړوونکی نورمن جویسن وایي: «که غواړی بریالي شی، ټول تمرکز مو پر ځانګړي هدف را ټول کړی». هسې نه چې د یو کار سرته رسولو پر مهال مو ذهن څو ځایه مصروف وي. که غواړی چې د بریا خوند وڅکی، په ځانګړې موخه مو تمرکز راټول کړئ.

**۵- پیاوړې اراده**

د بحري علومو استاد ډیوېډ ګالو پر پیاوړې اراده ټینګار کوي او هغه د بریا اصل بولي. بریالي کسان د پیاوړې ارادې او پر نفس د پوره باور له مخې مخکې ځي. هغوی د شرم او وېرې په نوم هېڅ هم نه پېژني. د امریکا وتلی لوبغاړی ګلډن هاوي وایي: «لومړیو کې پر ځان بې باوره او له ماتې سره مخ وم، ما ویل هېڅ وخت به بریالی نه شم. دا ځل مې پر ځان باور وکړ، اراده مې پیاوړې کړه او ټوله وېره مې له زړه و ایسته. هماغه وو چې د لومړي ځل لپاره پر خپل سیال بریالی او د لوبې ګټونکی اعلان شوم.»

**٦-له نورو سره مرسته کول**

د امریکا د ییل پوهنتون استاد شروین نولاد وایي: «له نورو سره مرسته کول د ځان پیاوړي کول دي». د هغه پر خبره میلیونونه ځوانان غواړي یوه ورځ شتمن او پر ځان بسیا شي؛ له هغوی سره مرسته وکړئ، څو بیا ستاسې لاسنیوی وکړي. له نورو سره مرسته مو پر ځان باور او ستاسې په اړه د هغوی ښه نظر لا پیاوړی کوي. یوازې تر ځان پورې محدود مه اوسئ، بلکې لید مو پراخ او د نورو مرسته کوونکي جوړ شئ.

**۷- نوې مفکوره لرل**

نوې مفکوره لرل د بریا بل راز دی. د مایکروسافټ کمپنۍ مشر بېل ګېټس وایي: «ما یوه نوې مفکوره درلوده، غوښتل مې د ټولو کمپیوټرونو لپاره د سافټویر خدمتونو لومړی شرکت جوړ کړم، پر خپله مفکوره مې کار وکړ او نن د نړۍ د یوه لوی شرکت خاوند یم.»

د چا پېښې مه کوئ او کوښښ وکړئ چې د چا د تقلید قرباني نه شی. وړتیاوې مو پر کار واچوئ او هدف ته د رسېدو لپاره مو له نوو لار چارو کار واخلئ.

**۸- مبارزه**

د بریا اصلي راز په مبارزه کې نغښتی. د ماتو، ستونزو، نیوکو او فشارونو پر وړاندې مو روحیه مه بایلئ، بیا را پاڅئ او حرکت وکړئ. له ځان سره په وار وار ووایئ: زه ګټونکی یم، زه ګټونکی یم.

د نړۍ تر ټولو مخکښ کسان له ډېرو نیوکو او ماتو سره مخ شوي دي، خو ماتې او شرم یې نه دي منلي، بیا را پاڅېدلي او حرکت یې پیل کړی، هماغه دي چې نن د نړۍ وتلي او مخکښ کسان ترې جوړ شوي.

## په فراه کې د جګړو له کبله پولیسو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



سرچینې وایي چې په فراه کې تر ۳۰ ډېر پولیس وژل شوي او شاوخوا لس نور طالبانو نیولي، خو طالبان بیا وایي چې ٤٦ دولتي سرتېري یې وژلي دي.

د فراه د ولایتي شورا غړي حاجي خیرمحمد نورزي پژواک ته ویلي چې وسله والو طالبانو وړمه شپه د دغه ولایت د خاکسفید ولسوالۍ په خوست سیمه کې د سیمه ییزو پولیسو پر پوستو بریدونه وکړل.

دی وایي چې په دغو بریدونو کې تر شلو ډېر سیمه ییز پولیس وژل شوي دي.

هغه وویل چې طالبانو په دې سیمه کې یو شمېر سیمه ییز پولیس ژوندي هم نیولي، خو له ده سره یې کره شمېر نشته.

دا په داسې حال کې ده چې د ځینو نا تایید شوو راپورونو له مخې، په خاکسفید کې تر دې ډېرو دولتي ځواکونو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د فراه د والي ویاند ناصر مهري وایي چې وړمه شپه د خاکسفید په خوست سیمه کې نښتې شوې، خو دی یې د مرګ ژوبلې په اړه معلومات نه لري.

نوموړی د جزیاتو له ورکولو پرته وایي چې طالبانو وړمه شپه د فراه ښار د مرکز اړوند په باغ پل، سنګي زور، برنګتوت او حیدرقلي سیمو کې هم بریدونه کړي، خو د مرګ ژوبلې په اړه یې له ده سره معلومات نشته.

د یادو سیمو اوسېدونکي چې نه غواړي نوم یې څرګند شي، وایي چې وړمه شپه د باغ پل په سیمه کې د پولیسو یوه پوسته طالبانو ونیوه او د دې پوستې اته پولیس یې له ځان سره بوتلل.

هغوی وایي چې د برنګتوت په سیمه کې دوه پولیس وژل شوي او درې نور طالبانو نیولي دي.

خو د فراه د والي ویاند ناصر مهري وایي چې د فراه په مرکز کې د طالبانو د وړمې شپې په بریدونو کې دوه پولیس په برنګتوت او دوه نور په باغ پل کې وژل شوي دي.

یوه سرچینه چې نه غواړي نوم یې څرګند شي، وایي چې طالبانو د دغه ولایت په ګلستان ولسوالۍ کې هم د سیمه ییزو پولیسو پر پوستو بریدونه کړي چې په پایله کې یې شپږ پولیس وژل شوي دي.

مهري د ګلستان په اړه څه ونه ویل، خو وایي چې د فراه په بریدونو کې طالبانو ته هم مرګ ژوبله اوښتې، خو کره شمېره یې ورسره نشته.

طالبانو ویلي چې وړمه شپه په خاکسفید او ګلستان ولسوالیو او دغه راز د فراه په مرکز کې د هغوی په بریدونو کې له دولتي ځواکونو څخه ٤٦ تنه وژل شوي، نهه ټپیان دي او نهه نور طالبانو ژوندي نیولي دي.

طالبانو ویلي چې په دغو بریدونو کې یو طالب وژل شوی او درې نور ټپیان دي.

## ضمیر کابلوف: خلیلزاد د افغان سولې په تړاو د خبرو لپاره مسکو ته راځي



د روسیې د ار ټي ټلویزیوني شبکې د خبر له مخې ښایي د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد د خپل سفر لوری مسکو ته بدل کړي.

سرچینې د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په حواله خبر ورکړی چې خلیلزاد پلان لري د افغان سولې په تړاو د خبرو لپاره مسکو ته ورشي.

سرچینې د ضمیر کابلوف له قوله لیکلي، دی خلیلزاد له نږدې پېژني او دوی به په دې لیدنه کې پر افغان سوله مفصلې خبرې وکړي.

خلیلزاد اوس په کابل کې دی او دلته یې له سیاسي څېرو او چارواکو سره هم د افغان سولې په اړه خبرې اترې کړې دي. خلیلزاد وروسته تر هغه روسیې ته سفر کوي چې تېره اونۍ په روسیه کې د افغان سولې په تړاو جوړه شوې غونډه کې طالبانو ټینګار وکړ چې دوی غواړي مخامخ له امریکا سره خبرې وکړي او لومړۍ غوښتنه یې له دې هېواده د بهرنیو ځواکونو وتل دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې ورځ تر بلې پر افغان خاوره د حکومت د کنټرول ساحه تنګېږي او طالبان پرله پسې هڅه کوي چې پر ولسوالیو ولکه ټینګه کړي.

امریکا تر اوسه روسیې ته د خلیلزاد د سفر په اړه څه نه دي ویلي.

بل پلو د روسیې د بهرنیو چارو وزارت وایي، طالبانو د افغان سولې په اړه د مسکو په دویمه غونډه کې د ګډون لپاره خپل چمتووالی ښودلی دی.

د مسکو په لومړۍ ناسته کې چې تېره اونۍ په مسکو کې جوړه شوې وه د سیمه ییزو هېوادونو د استازو سربېره د طالبانو یو پنځه کسیز پلاوي هم ګډون کړی و.

افغان حکومت په یاده ناسته کې له ګډون کولو په شا شو او لامل یې دا بللی چې دوی غواړي له طالبانو سره د افغانانو په مشرۍ د سولې خبرې مخته یوسي، خو طالبانو بیا په یاده غونډه کې یو ځل بیا ټینګار وکړ چې دوی له افغان حکومت سره ځکه خبرې نه کوي چې هغوی صلاحیت نه لري. طالبانو وویل چې له امریکا سره خبرو ته چمتو دي.

د مسکو د دویمې غونډې د څرنګوالي او نېټې په اړه څه نه دي ویل شوي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ٥٦۳ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۷,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:00 |
| کابل - دوبۍ | 16:30 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی،
جاوید کوتوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین،
حشمت نوري او جواد تیموري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily








سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲۲مه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۱۳مه | دویم کال | ۲۸٤ گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۱٤ | ۲۲ | ۱۲ | ۲۳ |
| -۱ | ۱ | ۷ | ۱ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۹ | لمر ختل ۰٦:۲٤ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۳:۱۲ | ماښام ۰٤:۵۱ | ماخوستن ۰٦:۱۷

## نړۍ




## جرمني او فرانسې د اوکراین د ختیځ ټاکنې غیرقانوني بللې دي



فرانسې او جرمني د اوکراین په ختیځ کې د روسي پلوو بېلتون‌پالو تر کنټرول لاندې سیمو کې د ورمې ورځې ټاکنې غیرقانوني بللې دي.

د فرانسې ولسمشر امانویل ماکرون او د جرمني لومړۍ وزیرې انگیلامېرکل په یوه گډ بیان کې ویلي دي چې یادې ټاکنې د اوکراین ځکمنۍ بشپړتیا تر پوښتنې لاندې راولي.

د اوکراین حکومت او نړیوالو ملاتړو یې ویلي چې شوې ټاکنې به د اوکراین په ختیځ کې د جگړې د پای ته رسولو لپاره د روانو هڅو مخه ونیسي؛ خو روسیه وایي، د اوکراین د ختیځ دونیڅک او لوهانسک سیمو د مشر د ټاکلو لپاره ټاکنې په دغو سیمو کې د جگړې د پای ته رسولو لپاره د مینسک د اوربند له موافقې څخه سرغړونه نه ده.

د اوکراین د ختیځ په جگړه کې چې د ۲۰۱۴ میلادي کال په اپرېل میاشت کې پیل شوه، تر اوسه پورې ۱۰ زره او درې سوه کسان وژل شوي دي.




انستیتیوت آموزشی و تحقیقاتی ملل متحد (یونیتار) یکجا با دولت جاپان ورکشاپ آموزشی تحت نام « برنامه رهبری زنان برای أفغانستان، حکومتداری و SDGs» را در کابل برگزار نمودند.

۲۱ اکتوبر سال ۲۰۱۸، کابل، افغانستان: دفتر یونیتار که مقر آن در هیروشیمای جاپان میباشد با حمایه مالی مردم و دولت جاپان ورکشاپ آموزشی تحت نام «برنامه رهبری زنان برای أفغانستان٬ حکومتداری و اهداف انکشافی ماندگار SDGs » را در کابل برگزار نمود.

طرح و دیزاین این برنامه بر اساس تجارب برنامه های تطبیق شده در ظرف ۱۵ سال گذشته توسط دفتر یونیتار در هیروشیما صورت گرفته است. به منظور بلند بردن سطح حکومتداری و رهبری مؤثر و توجه خاص برای انکشاف خانم ها در افغانستان این برنامه آموزشی برای ۲۰ تن از خانم ها از ادارات مختلف دولتی، غیر دولتی، جامعه مدنی و مطبوعات طرح گردیده و به شکل بورسیه تحصیلی برای آنها تفویض گردیده است.

این برنامه مشتمل بر دو ورکشاپ آموزشی میباشد که اولین ورکشاپ آن به تاریخ های ۱۵ و ۱٦ اکتوبر در کابل برگذار گردید. با همکاری دفاتر برنامه انکشافی ملل متحد (UNDP) و اداره ملل متحد برای زنان (UNWOMEN)، برنامه اول که در کابل برگذار گردید، نقاط مهم و کلیدی حکومتداری خوب، پاسخگویی اجتماعی، جندر و اهداف انکشافی ماندگار ملل متحد تحت بررسی و تبتع قرار گرفت. با استفاده از لکچرهای تیوریکی و کار های عملی در جریان ورکشاپ ، اشتراک کننده ها قادر به افزایش دانستنی های خویش در بخش اهداف انکشافی ماندگار و یا SDGs خصوصاً هدف پنجم یعنی برابری جنسیتی مختص به افغانستان گردیدند.

در آغاز برنامه بانوی اول افغانستان، خانم رولا غنی احساسات نیک خویش را با ارایه ویدیوی تصویری طوری اظهار داشتند، که از اشتراک کننده گان خواستند تا از این برنامه آموزشی و شبکه فعال ایجاد شده بین اشتراک کننده ها در ظرف چندین ماه با دفتر یونیتار در کابل و جاپان به طور اعظمی استفاده مؤثر نموده با تجارب و دانش افزوده شده خویش خصوصاً در بخش های حکومتداری و اهداف انکشافی ماندگار رول و نقش خانم ها را در ادارات و بالاخره در جامعه بیشتر توانمند سازند.

محترم میتسوجی سوزوکا سفیر دولت جاپان در افغانستان به راه اندازی برنامه مهم رهبری برای خانم های افغان را خیر مقدم گفته، اضافه نمودند که دولت جاپان در غنامندی و انکشاف اشتغال پرتوان خانم ها در جامعه افغانی متعهد بوده و تأکید نمودند ساختمان یک جامعه بهتر با توانمند ساختن زنان منحیث رهبر در جامعه یک قدم مهم در قدرتمند ساختن افغانستان میباشد. آقای سوزوکا به این باور هستند که اشتراک کننده ها تجارب بهتر و بیشتر از برنامه های که در کابل ، توکیو و هیروشیما برگذار میگردد، حاصل خواهند نمود.

خانم میهوکو کومه موتو رییس دفتر یونیتار در هیروشیمای جاپان گفتند « برنامه رهبری خانم ها در افغانستان، ۲۰ تن از خانم های با استعداد و پرتلاش را از ادارات مختلف در افغانستان با هم یکجا میسازد که آنها میتوانند با اشتراک شان دانش و استعداد خویش را در موضوعات تطبیق حکومتداری و برابری جنسیتی (Gender Equality) افزایش داده و مصدر خدمات شایان به کشور شان گردند. انکشاف تمام سکتور های جامعه یک گام مهم برای انکشاف متداوم میباشد و این برنامه ادامه خدمات دراز مدت یونیتار برای افغانستان تلقی میگردد.»

این برنامه شامل گفتگو های پویا و مؤثر بوده است. یکی از اشتراک کننده ها خانم ستاره حسن، ریس تلویزیون زن در افغانستان فرمودند که این برنامه برعلاوه افزایش علم، دانش و تجارب به ارتباط حکومتداری و اهداف انکشافی ماندگار، باعث انکشاف شبکه فعال و تخصصی اشتراک کننده ها گردیده آنها را منحیث یک فرد و یا یک تیم فعال توانمند میسازد تا با مشکلات مختلف کاری خویش پنجه نرم کنند و بالای آنها فایق گردند. خانم شیلا صمیمی اشتراک کننده دیگر این برنامه که متخصص ارشد در وزارت مالیه میباشد اضافه نمودند که بسیار خرسند استند که با دانش بهتر و بیشتر به ارتباط حکومتداری، اهداف انکشافی ماندگار، جندر و پاسخگویی اجتماعی دوباره به کار خویش ادامه میدهند و میتوانند در این عرصه با دیگران آموخته های خویش را شریک سازند.

با ملاحظه به نقش ادارات در تطبیق اهداف انکشافی ماندگار، اشتراک کننده گان با استفاده از دانش و تجارب شان از جریان ورکشاپ، وظیفه تجسسی را با به عهده گرفتن ارزیابی ضرورت ها و مسایل محیطی ادارات که شامل تشخیص یک موضوع مربوط به اداره و یا جامعه میباشد برای مدت یک ماه تحت بررسی قرار داده برای اشتراک به ورکشاپ آموزشی در جاپان آماده میگردند.

با در نظر داشت موضوعات اساسی ورکشاپ کابل و نتیجه وظیفه تجسسی اشتراک کنندگان، ورکشاپ دوم این برنامه که در اخیر ماه نومبر در توکیو و هیروشیما برگزار میگردد، اشتراک کنندگان را تحت آموزش و تتبع علمی قرار میدهد. با ارایه تقریر اخیر بالای پروژه های انتخاب شده توسط اشتراک کنندگان، ورکشاپ جاپان اشتراک کنندگان را با فهم و وسایل ضروری برای انکشاف یک پلان کاری مکمل و قدم به قدم که موارد مهم جندر، حکومتداری، پاسخگویی اجتماعی و اهداف انکشافی ماندگار را در بر داشته باشد، میسازد.



